SHARIAT WEEKLY
شریعت
اوونیزه
په اوونی کې دوه ځله خپریږي
دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان
څلورم کال نوی پس ګڼه پرله پسی (۲۸۰) چهارشنبه د ۱٤۲۰ هـ ق کال دشعبان المعظم (۲۳) د۱۳۷۸هـ ش کال د لندی دمیاشتي (۱۰) د۱۹۹۹میلادي کال د دسمبر (۱)

الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي !، همدا (عدل) ډیر نږدي دی تقوا(پرهیزګاری) ته.
(سورة المائدة)

توجه!

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را بي حرمتي بگذارید.

په نیویارک کې د اسلامي امارت استازي محترم عبدالحکیم مجاهد له بي بي سي سره په مرکه کې :

ملګري ملتونه تل داسي رپوټونه خپروي چي اسلامي امارت بد نامه کړي

اسلامي امارت تل هلي ځلي کړي چي په افغانستان کي د خلکو د سیګني او سولي لپاره د نړیوالو ټولنو او ملګرو ملتونو سره مرستي وکړي

محترمو لوستونکو ! کابل ته د ملګرو ملتونو په سازمان کي ددي سازمان د عمومي منشي لخوا کلني رپوټ د وړاندي کولو په اړه په نیویارک کي د اسلامي امارت ځانګړي استازي ساغلي مجاهد مرکه کړي چي تاسو ته یې وړاندي کوو .
ملګري ملتونه د تل لپاره د افغانستان د اسلامي امارت په وړاندي له مبهمو اعتراضاتو نه کار اخلي او په دي توګه د افغانستان اسلامي امارت بد ناموي ملګرو ملتونو ته پکار وُ چي د افغانستان د اسلامي امارت د مخالفینو په سیمو کي هلته چي د بشر حقوق تر پښو لاندي کیږي ګډوډي او انارشیزم موجود دي . جګړي ، قتل او قتال شته نو لازمه ده چي په هغوي باندي وسلي بندي شي د دوي ٤مخ

محترم مولوي وکیل احمد متوکل در ملاقات با شاغلي اریك دیمول :

آرزومندیم تا سازمان ملل متحد دفتر مرکزی خویش را به افغانستان انتقال دهد

جهانیان باید تبلیــــغات و حقـــایق را از هـــــم تفکیك نمـــــایند

امارت اسلامي به خاطر حقوق بشر قیام نموده و تروریزم را مردود مي شمارد

محترم مولوي وکیل احمد متوکل وزیر امور خارجه دیروز با شاغلي اریك دیمول ناظم کمکهاي بشري سازمان ملل متحد براي افغانستان ملاقات نمود.
آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد : در این ملاقات محترم متوکل، کمك هاي سازمان ملل متحد را براي مردم افغانستان مفید خوانده از همکاري بي شایبه مسؤولین امارت اسلامي با سازمان ملل متحد وعده سپردند.
محترم متوکل از شاغلي اریك دیمول خواست تا دفتر مرکزي آن سازمان از اسلام آباد به داخل افغانستان انتقال یابد . محترم متوکل تبلیغات و پروپاگند هایي را که در مورد امارت اسلامي صورت میگیرد نادرست خوانده از جهانیان خواست تا تبلیغات و حقایق را از هم تفکیك نمایند.
موصوف در رابطه به زرع مواد مخدر و حقوق بشر گفت، امارت اسلامي در رابطه به جلوگیري از زرع کوکنار حاضر به تفاهمات بوده و در این راستا تلاش هاي را به خرج داده شده که متأسفانه از سوي مجامع بین المللي دست آورد هاي امارت اسلامي انعکاس نیافته است .
وي گفت امارت اسلامي به خاطر حقوق بشر قیام نموده و تمام مردم مطابق به دساتیر الهي از حقوق مساوي برخوردار اند وي تروریزم را مردود شمرده و مخالفت شدید امارت اسلامي را با آن ابراز داشت.
موصوف در رابطه به تلاش هاي امارت اسلامي در جهت بهبود تعلیم و تربیه اشاره نموده ص ٤

د پکتیکا ولایت د مستوفیت د فعالیت د څرنګوالي په باب خبري وشوي

د پکتیکا ولایت د مستوفیت د فعالیتونو د څرنګوالي په باب خبري اتري وشوي.
د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړي د مالیي وزیر محترم ملا محمد طاهر انوري پرون له غرمي مخکي د پکتیکا ولایت د مستوفیت د فعالیتونو د رپوټ داوریدو په ترځ کي چي ددغه ولایت د مستوفي محترم ملا شیر آغا لخوا وړاندي شو پخپل وخت د پکتیکا ولایت د عوایدو تر لاسه کول او د عشر او ذکات د راټولولو او ویش څرنګوالي مثبت وباله او د اړوندو چارو د لا زیات ښه والي په لاره کي یې لازمي مشوري او لار سووني وکړي .

محترم وزیر امور خارجه با سفیر کبیر جمهوري اسلامي پاکستان و نماینده کمپني T.S.I ملاقات نمود

محترم مولوي وکیل احمد متوکل وزیر امور خارجه در ملاقات با شاغلي عزیز احمد خان سفیر و نماینده فوق العاده جمهوري اسلامي پاکستان در کابل روي یك سلسله مسایل مورد علاقه مذاکره نموده ، از جمهوري اسلامي پاکستان تقاضا نمود تا در راه رفع مشکلات ترانزیتي مال التجاره تجار افغاني توجه جدي ص ٤

کار ساختمان مجدد عمارت «د افغانستان بانك» ولایت گردیز اکمال گردید

به سلسله باز سازي و احیاي مجدد کشور کار ساختمان مجدد عمارت «د افغانستان بانك» گردیز که قبلاً آغاز گردیده بود اخیراً ص ٤

روسیي د امریکا د متحده ایالاتو یو دیپلومات د جاسوسي په تور ونیو

د روسیي امنیتي منابعو پرون اعلام وکړ چي د امریکا متحده ایالاتو یو دیپلومات د جاسوسی په تور نیول شوي د روسیي د امنیت وزارت ویندوي وویل دغه جاسوس چي په مسکو کي د امریکا د متحده ایالاتو د سفارت په سیاسي پوځي برخه کي کار کاوه په داسي حال کي چي هلي ځلي یې کولي د روسیي له یوه تبعه نه د امریکا د اطلاعاتو دجاسوسي سازمان له پاره د پوځي اطلاعاتو په ګهون دولتي سندونه راټول کړي نیول شویدي.
د امریکا د متحده ایالاتو سفارت تر اوسه پوري د روسیي د امنیتي مقاماتو لخوا د خپل دغه مامور د نیولو په باره کي غبرګون ندي څرګند کړي .

د نړۍ روغتیایي سازمان د عامي روغتیا له وزارت سره مرسته وکړه

په کابل کي د نړي د روغتیایي سازمان اداري پرون یوه اندازه تخنیکي وسایل چي په روغتیایي فعالیتونو کي کارول کیږي د مرستي په دول د عامي روغتیا وزارت ته وسپارل.
د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ په دغو وسایلو کي یو کمپیوټر یو پرینټر، د اوبو د زېرمي یوه دستګاه او یو ترانسفارمر شته او په داسي حال کي چي د عامي روغتیا وزیر محترم الحاج ملا محمد عباس اخند حاضر و په کابل کي د نړي د روغتیایي سازمان د اداري د استازي لخوا پرون د مرستي په دول د عامي روغتیا ٤ مخ

د موټرو او صنعتي ماشین آلاتو د ترمیم د مدرسي د لومړي دوري د فارغانو سندونه وویشل شول

د موټرو او صنعتي ماشین آلاتو د ترمیم د مدرسي د لومړي دوري فارغانو پرون د یوي غونډي په ترځ کي د فراغت سندونه تر لاسه کړل .
د باختر اطلاعاتي اژانس خبر راکړ په هغي غونډه کي چي له همدي امله په دغي مدرسه کي جوړه شوي وه له هغه وروسته ص ٤

با وجود انتقادات شدید بین المللي :

حملات هوایي و توپخانه روسیه بر چیچن ادامه دارد

با وجود انتقادات شدید بین المللي حملات هوایي و توپخانه روسیه همچنان بر چیچن ادامه دارد . در حالیکه جامعه جهاني همچنان روسیه را بخاطر ادامه حملات هوایي و توپخانه به چیچن محکوم میکند گزارشهاي خبري از حملات هوایي ص ٤

یك مدرسه دیني در ولسوالي زرمت ولایت پکتیا اعمار و مورد استفاده قرار گرفت

یك باب مدرسه دیني به نام شمس المدارس در ولسوالي زرمت ولایت پکتیا اعمار و مورد استفاده طالب العلمان قرار گرفت.
آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد : در محفلي که به همین مناسبت به اشتراك علماء، روحانیون و اهالي ولسوالي زرمت تدویر یافته بود محترم ص ٤

رئیس جمهور لبنان تاکید کرد :

بدون آزادي سرزمین هاي اشغالي ، جنوب لبنان، ارتفاعات جولان، و بازگشت مهاجرین فلسطیني صلح در منطقه بر قرار نخواهد شد

رئیس جمهور لبنان دیروز تاکید کرد که اینکشور تسلیم مطلق زور با باج خواهي رژیم اسرائیل نخواهد شد.
ایمیل لاهود رئیس جمهور لبنان گفت،رژیم اشغالگر اسرائیل سعي دارد با توطئه هاي مختلف لبنان را به دوران جنگ هاي داخلي باز گرداند.
وي تاکید کرد بدون آزادي سر زمین هاي اشغالي جنوب لبنان و ارتفاعات جولان و بازگشت مهاجرین فلسطیني صلح پایدار در منطقهېر قرار نخواهد شد.

د سپین زر هوټل آمر محترم الحاج مولوی محمد ولی «سعید» له شریعت اوونیزی سره په مرکه کی :

سپین زر هوټل د هر ډول اسانتیاو په درلودلو د بهرنیو او کورنیو میلمنو په خدمت کی دی

دی هوټل ته په پخوانیو جګړو کی ډیر تاوانونه رسیدلی وو چی اوس په اساسی او شکلی ډول ترمیم شویدی

محترمو لوستونکو ! سپین زر هوټل چی د کابل ښار په زړه پل باغ عمومی کی د پښتنی تجارتی بانک شمال غرب او د اطلاعاتو او کلتور وزارت سره د یوال شریک واقع دی د هیواد له نومیالیو هوټلونو څخه ګڼل کیږی. چی د هوټلونو له بین المللی نورم سره سم هر ډول اسانتیاوی لری خو په تیرو جګړو کی دا هوټل هم د راکټونو له اورا و لمبو ٤ مخ

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

کــــومه لویه جرګـــه د افــــغانانو ستونزی حل کولی شی ؟

په دی وروستیو کی په بهر کی د مصطنعی لوی جرګی د انعقاد په اړه خبری اتری ډیری ګرمی او د منلو او نه منلو په اړه یی رنګارنګ تبصیری کیږی.
خو تر کومه ځایه چی خبره په لویه جرګه پوري تړاو لری، لویه جرګه په افغانی ټولنه کی د ځانګړی درانه مقام درلودونکی ده ، د لوی جرګی له تاریخی او ملی اهمیت څخه هیڅوک سترګی نشی پټولای. لویه جرګه ټولو افغانانو د یوی ملی عنعنی په حیث منلی ، او د تاریخ په اوږدوکی یی خپلی ډیری ورپیښی ۲ مخ

جبهه ائتلاف ملي مالیزیا در انتخابات آن کشور پیروز شد

کمیسیون انتخابات مالیزیا رسماً اعلام کرد که جبهه ائتلاف ملي آنکشور با بدست آوردن یکصدو چهل و هشت کرسي از جمله یکصدو نود و سه کرسي پارلمان اکثریت لازم را براي تشکیل دولت فدرال بدست آورده است .
قرار گزارشها انتظار میرود جبهه ائتلاف ملي که ائتلافي از چارده حزب در مالیزیا میباشد مهاتر محمد را براي یك دوره پنجساله دیگر به سمت صدراعظم آنکشور انتخاب کند.

هفتاد و چهارمین جلسه سران فرانسه و آلمان آغاز شد

دیروز در پاریس هفتادو چارمین جلسه سران آلمان و فرانسه با ملاقات گیرهاردشوایدر صدراعظم آلمان و ژاك شیراك رئیس جمهور فرانسه آغاز شد.
مهمترین موضوعات مورد گفتگو سیاست دفاعي مشترك در اروپا ایجاد هم آهنگي در موسسات اروپایي و همچنان ابتکار عمل مشترك جهت مبارزه با بیکاري جوانان است. ص ٤

شریعت

دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لانده ي
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال : محمد داد
دیوې ګڼې بیه : په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانی په پاکستان کی (۳) کلداری
پسټ بکس : (٤۷۱) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱
جاري حساب : $\frac{٤۰۳۸٥}{۷}$ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالي پاتي برخه

ستونزې ددې ملي عنعنې له مخې حل کړي .

خو هغه لوی جرګې چې زمونږ د ملت په تاریخ کې یې ډیرې ستونزې حل کړې هغه داسې لوی جرګې وې چې انعقاد یې په بشپړه توګه د سوچه افغاني عنعنو پر بنیاد و . د هغو انعقاد نه په پردیو ملکونو کې وو او نه هم د پردیو په فرمایشونو سره، نه یې ملګرو ملتونو څارنه کوله او نه یې روس او امریکا یا کوم بل لوری مالي لګښت په غاړه درلود.

هغه لوی جرګې به په بشپړې خپلواکۍ سره د افغانانو لخوا د افغانانو په ټاټوبي کې جوړېدلې، پخې پریکړې به یې کولې او هغه پریکړې به یې د افغانانو لخوا په ډېره چټکتیا سره عملي کیدې چې له بده مرغه د اوسنو مصطنعو لویو جرګو مدعیان په بشپړه توګه له ټولو دغو ملي او عنعنوي ځانګړتیاوو څخه بې برخې دي.

افغان مؤمن ملت ښه ویښي چې دا جرګې چیرته جوړیږي ، پلانونه یې د چا لخوا طرح کیږي او د چا د ګټو لپاره پکې پریکړې کیږي .

له کله نه چې د ملحدو روسانو لخوا زمونږ د هیواد په مقدس حریم تیری شوی او زمونږ مسلمان ملت یې په ویر او غم اخته کړی ډیر ځلې په بهر کې د بهرنیانو په مستقیم دستور داسې جرګې تر سره شوې او پریکړې یې کړې خو تر اوسه پورې یې نه چا نتیجه لیدلې او نه یې د پریکړو عملي کیدل.

د طایف له غونډې نه پیل‌بیا د اسلام اباد، راولپنډۍ ، تهران، استانبول ، قبرص ، تاشکند او روم پورې ډیرې داسې جرګې شوې خو هرې یوې ددې په ځای چې د افغانانو د رېږې په حل کولو کې څه پرمختګ وکړي بله ستونزه ئې زیږولې. ددغو ټولو غونډو او جرګو د نه اغیزمن توب لامل دا دی چې پریکړې ئې د افغان ځوریدلي ملت له سالمو غوښتنو سره نه‌دي برابرې او نه یې هم د هغوی واقعي تمثیل کړی.

که په واقعي توګه دا جرګې او غونډې د افغاني ستونزې د حل لپاره وي نو باید دا جرګې په هغه ځای کې تر سره شي چې اصلي ستونزه پکې موجوده ده او دا چې ستونزه په افغانستان او حل یې په روم کې لټول کیږي نو له دې چې هغه د شاعر په وینا خیال او محال او جنون ورته وویل شي نور هیڅ توقع نشي تری کیدلای .

د یادولو وړ خبره دا ده چې په اوسنیو شرایطو کې چې په افغانستان کې د مسلمان مجاهد ملت په خوښه اسلامي نظام قایم شوی د افغان مجاهد ملت د واقعي استازیو علما کرامو لخوا د اسلامي امارت مشرتابه امیر المومنین ته د بیعت او اطاعت لاس ورکړل شوی نو ددې هیڅ ضرورت نه لیدل کیږي چې بیا په بهر کې د اضطراري لوی جرګې په نوم دې ملت ته دامونه کېښودل شي او د هغوی د حقه غوښتنو په خلاف دې پرې کړې وشي .

د افغانستان اسلامي امارت د ټولو مسلمانو افغانانو لپاره د خیر مرجع دی د ټولو افغانانو مصالح پکې خوندي او د ټولو افغانانو سالمو نظریو او مشورو ته د قدر په سترګه ګوري.

هر مسلمان افغان ته ددې حق ورکوي او دا ځنې غواړي چې د وطن په بیا رغونه کې سهم واخلي نن که هر څوک په واقعي توګه د افغان ستونزې د حل په اړه قدم پورته کوي باید په افغانستان کې دننه د افغانانو په خوښه را منځ ته شوی نظام تایید کړي. ځکه د افغانستان د مجاهد ملت دا ټولې سر ښندنې مهاجرتونه او قربانۍ د داشانتې اسلامي نظام د رامنځ ته کیدو په منظور وې او د افغانستان مجاهد ملت به د مجاهدینو په ټاټوبي کې بغیر ددې اسلامي نظام نه بل هیڅ کفري مختلط نظام ته د پلي کیدو اجازه ورنکړي ځکه د مسلمانانو لپاره واقعي سوله، نیکمرغي او ترقي پراختیا او پراختیا د اسلامي نظام تر سیوري لاندې ممکنه ده او بس

امریکایي پلټنه !!!

پټې پاڼې

شهرت ننګيال

څه وخت د مخه د مصر عربي جمهوریت د هوایي کرښې یوه الوتکه له متحده ایالتونو نه له الوتو وروسته ولوېده او ټوله سورلي یې ووژل شوه امریکایي مقاماتو چې په دې اړه کومې پلټنې کړې په هغو کې ویل شوي چې الوتکه هغه مهال وغورځیده چې د پیلوټ مرستیال په لمانځه ودرید په همدې وخت کې الوتکه له کنټرول نه ووته له هوایي ډګر سره یې اړیکې وشلیدې، د رادار له کړۍ ووتله او وغورځیده .

امریکایي مقامات ددې خبرې دلیل دا وړاندې کوي چې د الوتکې په ټیپ کې د کوپیلوټ له خولې د تشهد کلمه ثبت شوې ځکه خو دوی په خپل رپوټ کې دغه ټکې ځای کړی چې کنی د پیلوټ د مرستیال د لمانځه له امله الوتکه لویدلې ده خو مصري چارواکو پر دغه رپوټ د شک د څرګندولو په ترڅ کې یو ځانګړی پلاوی امریکې ته استولی چې د پېښې د پلټنې په اړه خپل رپوټ بشپړ کړي .

امریکایي مقاماتو د الوتکې د غورځېدو پړه پر لمانځه ور واچوله، خو له دې ناخبره دي چې یې جماعته لمونځ په جهر سره نه ویل کیږي چې د الوتکې ټیپ یې ثبت کړې خبرو نو له مخې الوتکه له الوتلو څو دقیقې وروسته وغورځیده له دې څرګندیږي چې پیلوټ که لمونځ کولای نو له الوتلو د مخه به یې دپه هوایي ډګر کې کړی و .

د متحده ایالاتو دغه رپوټ چې د الوتکې غورځیدل یې د پیلوټ د مرستیال د لمانځه له امله ګڼلي دا څرګندوي چې هره ناوړه پېښه ښايي له اسلام او مسلمانانو سره تړاو ولري او تر همدې پورې وتړل شي.

مصري چارواکو دا ویلي چې تشهد کلمه یا دعا مسلمانان د مصیبت په وخت کې وایي او یواځې له لمانځه سره اړه نلري.

د الوتکې د غورځېدو لامل چې هر څه وي خو د غور ټکی دا دی چې آخر امریکا ولې دغه پېښه تر لمانځه پورې تړي ؟

د امریکایي چارواکو دغه رپوټ لکه څنګه چې مصري مقاماتو پرې د شک څرګند ونه کړې دغسې د نورو اړخونو له خوا هم باوري نشي ګڼل کیدای.

امریکایي د چارواکي له دې نا خبره دي چې یې جماعته لمونځ په زوره (جهر) سره ویل کیږي که خفیه دا هغسې بې خبري او غلط فهمي ده لکه امریکایان چې د حجاب او پردې په اړه ورسره مخامخ دي.

دوی فکر کوي او داسې انګیرې چې په پرده کې به مسلماني تور سرې د تکلیف او حرج احساس کوي خو دا د دوی هغه ناوړه پوهیدنه ده چې د اسلامي ټولنو او هیوادونو او احکامو په اړه یې لري په داسې حال کې چې مسلماني تور سرې پر ده خپل عزت ګڼي او د خپل شرف او وقار ساتونکې یې بولي.

خو غربي ټولنه همغسې تفکر چې د ځان په اړه یې لري د نورو په هکله هم څرګندوي او غواړي له دې لارې خپل کلتور او تفکر په نورو ټولنو هم وتپي چې دا خپله د ټولنو پر فکري او کلتوري بنسټونو د تیرې معنا لري.

لکه څنګه چې هڅه کوي د مصري الوتکې د غورځیدو پړه پر لمانځه واچوي دغه وړ د ټولنو نور اسلامي او ملي اړخیستونه هم په بیلابیلو نومونو او عنوانونو تر پوښتنې او ګواښ لاندې نیسي.

د مصري الوتکې د غورځیدو په پېښه کې د امریکایي چارواکو رپوټ په ډاګه کوي چې هغوی د اسلام او مسلمانانو په اړه څومره حساس دي، له دې ټګۍ نه څرګند یږي چې د اسلام او مسلمانانو د بدنامۍ لپاره کفري نړۍ په څومره ځار او څوکۍ ده .

فاعتبروا یا اولی الابصار

د افغانستان د سیاسي او ټولنیزو ګډوډۍ علتونه

له ۱۳۳۲ نه تر ۱۳۷٤ هـ ش پورې (۱)

صلاح الدین «ابراهیم خیل»

په ۱۳۳۲ هـ ش کال د حکومت له ګدۍ د «ظاهر شاه دوهم اکا شاه محمود» له لرې کیدو وروسته، چې د ظاهر شاه لومړی اکا محمد هاشم له لرې کیدو پس د هغه په ګدۍ ناست و - محمد داود د ظاهر شاه دریم اکا زوی د صدارت په ګدۍ کښیناست له دغه مهال د وه میاشتې د مخه ، او د دوهمې جګړې څخه زیات و کم لس کاله وروسته، هغه وخت چې بیا د ختیځې او لویدیځې اروپا د هیوادو وزرونه، یو په بل د بې باورۍ لامله او ځانې ګټو د حرص له مخې په رپیدو شول. لویدیز د «ناتو» پوځې دفاعي ادې په تعقیب په ۱۳۳۱ کال د مرکزي «سنټو» په نوم د پاکستان، ایران، عراق، ترکیې، انګلستان او امریکا په ګډون بغداد کې د نوې پوځې اډې نیالګی کېښود. همدارنګه شوروي روسیې هم د سویز کانال ملي کولو په داعیه کې د مصر په پلوی د انګلستان، فرانس او صهیونزم د مثلث برید شنډولو په بدله کې، مصر او سوریې ته د دیرش زریز فني، تخنیکي روسي ماهرانو د کورنیو په لیږدولو سره د استعمار د رباب غوږونه تاو کړل او لا هڅه یې کوله ژر تر ژره شاوخوا نوري عربي سیمې لکه: اردن، لبنان او عراق خپل جال کې راښکیل کړي.

دغه مهال «ظاهر شاه- داود» پخپلو کې دوه مخیز سیاست غوره کړ، داسې چې ظاهراً په لویدیز او ختیز ته په یوه سترګه ګوري، خو په حقیقت کې دواړو، یو د افغانستان ولس مشر او بل یې حکومت مشر د مثلثیو په توګه شا په دا داسې ودریدل ظاهر شاه خپله مخه لویدیځ او امریکا ته، او داود شوروي روسیې ته واړوله داود ددې لپاره چې شوروي روسیه د هغه په ښه نیت او اخلاص ښه ډاډه شي د خپل حکومت مشرۍ په موده کې په ځینو داسې نا اشنا . له سوچ او اټکل بهر چارو لاس پورې کړ چې هم یې افغان ولس او هم یې نوره نړۍ هکه پکه کړه، د ساري په توګه :

دده د حکومت په مهال هغه وخت چې «اګنیو» امریکایي لوړ رتبه ډیپلومات افغانستان ته د یو کاري سفر په ترڅ کې راغی، په کابل کې یې د هر کلي په وخت، د حکومت په لمسون، په هګیو د سپرلي ګاډي د شیشو په ویشتو سپکاوی وشو.

- په ۱۳۳٤ کال یې یوازې د هند او شوروي روسیې د خوشحالي په خاطر، یو نا څاپه، له هر ډول پوځي سمبالتیا پرته، د پاکستان په خلاف، د سفر بري او عامي تیارسۍ، اعلان وکړ، چه وروسته کرار په ځای کښیناست .

په ۱۳۳٥ کال پسرلي اندونیزیا کې د «باندونګ د ناپیلو هیوادو مشرانو په جرګه» کې له ګډون وروسته یې، جمال عبدالناصر، د مصر سوسیالست ولس مشر، د لویدیز او امریکې په ضد، تیغ په نیغه، د خاص میلمه په توګه، له ځان سره کابل ته راوست او په لوړ کچ یې ولمانځه، او له هغه یې د روسیې سره د خپلې دوستۍ په باب درس واخست .

- د ۱۳۳٥ کال ژمي کې یې د شوروي روسیې مشران «بولګانین ، مالینکوف، کاسګین» افغانستان ته راوبلل، او د سوسیالستي مصر په دودیې دفاعي، کلتوري فرهنګي، او اقتصادي تړونونه چه په هغو کې د پوځ څرنګوالي، د وسلو مودل اړلو موضوع، په کار ولاړ و پوځي کسانو لنډ مهالي او د راتلونکي پوځ روزنې او عمراني تاسیساتو مسایل شامل و افغانستان ته د یو شمیر کاري، سیاسي روسي ماهرانو راتګ چه کورنۍ به یې هم ورسره وي، د پوځي مشاورینو، فني او تخنیکي کار پوهانو په پلمه په یو اړخیزه توګه (د شوروي په ګټه) د افغان ولس د شورۍ له منني او تصویب پرته لاسلیک کړل. چه ښه بیلګه یې یوه د غازي آباد فارم پروژه ده ددې فارم میوه او حاصلات تر ۱۳٥۷ کال نیغ په نیغه مسکو ته لیږدول کیده .

- بله د مزار شریف تیلو، ګاز او کودو برق پروژې دي چه تر اوسه یې افغان ولس له ګټې بې برخې دي.

همدارنګه د مکروریان کورونه د شوروي روسیې ګډوالو «میلمنو» ځالې وې او د جنګلک تخنیکي فابریکه د روسي وسایطو ناوزګار ورکشاپ وا او د اقا علي شمس، تخنیکم لیسه د کمونست روزنې مدرسه وه .

- د ننګلو او درونټې کانال پروژې د لګښت له پلوه دومره ملوثې وې، چې لا تر اوسه یې کار ندي پاک شوي. او ضرب المثل ګرځیدلې، چې د بدو هر ملوث کار د ننګلو او کانال پروژه بولي، لکه چه وایي «دا د ننګلو او درونټې کانال پروژه شوه . »

په افغانستان کې د روسانو د ټولو تړونونو او پروژو دغه حال و چه ګټه یې افغانستان ته یوازې «او یوازې ټولنیزه ګډوډي، بې دینې، کور په کور د لانجو پیدا کول، ددولتي روشنفکرانو د اخلاقو او سلوک بدلول و » .

د یاد وړ خبره خو دا ده چې «ظاهر شاه» د «داود» د حکومت په ټوله موده کې میړې خواره مرغه په شان یو چوپ بې توپیره کالبوت و، داسې ښکاریده لکه «سرسام» «کور به چه په کور کې د دوست او غلیم توپیر نشي کولای . ځکه هغه د امریکا او لویدیځ د خوابدۍ له ویرې روسي رابلل شویو «میلمنو» سره هم د دوستۍ «ناوکي ډوله» سرخوځاو . او لویدیځ - امریکا له یارانې یې هم زړه نشو صبرولای.

دا ددې لپاره چې له یوه پلوه یې په افغانستان کې د خپل سلطنت پایښت او ټینګښت د شوروي روسیې سره په دوستۍ کې لیده ځکه هغه ته ددغې دوستۍ رانیول په هره لوره بیه، حتی په اسلام پلورلو هم ارزان بریښیدل.

او له بلې خوا یې د لویدیز د فیشن او سینګار د عیاشۍ مینه او محبت په زړه کې دومره تود و چې هیڅ یې له زړه نه وت او لویدیز یې نه شو هېرولای.

د ظاهر شاه دوه مخیز سیاست په ډیرو ډیرو جالو لاس اېښودل و - ځکه روسان خو هسې هم ملک ته راننوتي او خپل کار یې لا دمخه پیل کړی و . امریکا ، لویدیځ د لنډ مهال پلان له مخې روسان په افغانستان کې له ځانه د مخه او پخپلو هیلو کې بریالي بلل، خو په اوږد مهال پلان کې یې په هغو دغه پیرزوینه نه درلوده ، او نه یې په دغه سیمه کې د هغو د پښو ځای زغملای شو ځکه یې د ظاهر شاه په سیاسي سرسامۍ یا دوه مخیز سیاست سترګې پټولې او داسې ښودل چې ګڼي ددې د دوستۍ په سیاست د «اروپا امریکا» باور ټینګ او کوم خنډ توپیر پکې نه ویني.

له ظاهر شاه سره «اروپا - امریکا» د دوستۍ دغه «او مړی» تار او «مړ ژواندی» سیاست، له افغانستان څخه د اوږد مهاله سیاسي ګټو په خاطر ساته، غوښتل یې په جنوب آسیا کې د «افغان- ایران» او په منځنۍ ختیز کې د صهیونیزم په واسطه د برطانیې د ټولې شوې کمپلې په ځای خپله کمبله وغوړوي، نو ځکه یې په افغانستان کې د پښو ایښودو ځای ساته دا د برطانیې له وتلو سره سم د عربو په زړه «فلسطین» کې د صهیونزم ټومبل په مدرنه وسله او زیات مالي مرستو یې ساه ساتل او ټول عرب پرې «سکوټلډ» او راښکورول، یوازې او یوازې په اسیا کې د انګلوسکسون د میراث د ساتلو پخاطر دي

پاتي لري

تأسیس و برگذاري شوراي علماء در سرتاسر ولايات کشور

راز محمد «ویش»

يکي از خصلت هاي قيادت و زعامت هاي اسلامي سپردن کار به اهل کار و بر قراري تفاهم بين ارگان هاي اداري، مردم و اتباع شريف او باشد. که از راه تشکيل شورا هاي چند عضوي از محل تا ولايت شامل سراسر قلمرو به خجسته آرزو رسيد و چون مشت بسته از ترکيب دولت و مردم شد، نمودار دولت مردم و اتباع گرديد.

دين مبين اسلام اداره و حفظ رفاه همگاني اتباع کشوري را از خانواده، قريه، محل و منطقه تا محدوده وسيع کل کامل دولت تابع و منوط تعين زعيم و قائد دانسته متصف تفوق علميت، معقوليت و پارسايي ميان گروه خود باشد تا بتوان حق زعامت و حقوق اتباع را به تحريکه دين الهي«ج» ميفرمايد ادا کرد.

چنانچه فحواي مبارك آيه «و-شاورهم في الامر» و مبارك حديث نبوي «ص» « کلکم راع و-کلکم... » را مصداق خوب اين مدعا دانست.

امارت اسلامي که آغاز مبارزه و دست اندر کار خدمت مردم شريف، مؤمن و مجاهد افغان بتأسي خواست فلسفه جهاد، جهاديکه بحسابي از ۲۵- و بحسابي هم ١٤ سال پيوسته که پيروي از احکام خداوند و شريعت غراي محمدی«ص» در نيل بهدف آن پياده کردن آمال و آرزوي شهداي گلگون بخون و بخاك خفته کشور «در مجاهده بخاطر حفظ دين خدا«ج» در کشور» بعمل آمده با توجه بروحيه مشورتي با اهل خبره علوم ديني، آنرا در رأس وظايف و حلال دشواري در نيل به اهداف مهم مردمي و دولتي ميداند.

اينك با طمانيت جلب کامل اعتماد مردم بر حقانيت خدمات امارت اسلامي، آغاز بکار تأسيس و بر گذاري شورا هاي علما از محل تا ولايات سراسري کشور نمود که خدا«ج» بخواهد مردم و امارت اسلامي عملاً قرين هم شده، دشواري فرهنگي، اقتصادي و اجتماعي شانرا دوشادوش هم به شيوه خواست خويش از مسير کاروان زندگي شان بدور ساخت و بذروه حيات آن خواست دين الهي و شريعت نايل آمد.

چنانچه دوشنبه ۲۱ شعبان المعظم ارگان قضايي امارت نيز ضمن اجلاسي به تاييد اين خجسته امر دولت صحه گذاشت ، سنگ اندازي دشمنان دين الهي بعنوان جلسات نام نهاد در بيرون از کشور چون (ايران، قبرص، جرمني و ايتاليا) محکوم کرد.

همچنان وزارت خارجه امارت اسلامي افغانستان در پاسخ به سوالات ژورنالستان داخلي و خارجي روشن ساخت :

امارت اسلامي افغانستان با تاييد تأسيس شوراي علما محل و ولايات کشور در رأس وظايف خويش مانع جرگه ها و جلسات داير برهنمود هاي اقتصادي ، فني و تخنيکي در کشور نيست، اما بنشست ها و جرگه ها و جلسات در مورد تعيين سياست و زعامت کشور نياز نمي بيند چه از آن بداشتن امير و امارت مطابق قانون مقدس اسلام برخوردار ميباشد.

کذا نطاق امارت اسلامي در زمينه تشکيل شوراي علما «در کشور طي پاسخي به بي بي سي بصراحت گفت : از آنجا که ميشود شوراي علما، محل و ولايات از پيوند ناگسستني مردم با دولت «ازخانواده تا سطح سراسري کشور» نمايندگي کرد آنچنان مي شود زمينه تفاهم بين مردم و دولت را سريع و منسجم کرد و بناءً ميتوان آنرا ممثل حکومت مردم بري مردم دانست.

شوراي چهار عضوي محل عبارت از نخبه علما ـ محل، به مفهوم ستاره هاي رخشنده و ممتاز واجد «علوم ديني سالم، خرد سالم و تقوي» فضاي محل بوده که بلاشك تطميع، زور، فشار و رسوخ بي مفهوم قومي از گروه علماي محل انتخاب ميشود.

اميدواريم با تکميل شورا هاي مورد نظر ميتوان بر جميع مشکلات به شمول تحريم اقتصادي فايق آمد.

و من الله التوفيق

چشم به راه مهمان گران مایه

مولوي عبدالرقيب «جهيد»

عادت برين جاري شده که هرگاه صميمي ترين دوست و محبوب ترين رشته داران گرامي ما در سفر باشد و قراين دال بر آمدن و بازگشت او محسوس آيد ناگزير محبان و علاقمندان بي-صبرانه ظروف زماني را دقيقه شماري ميکنند از شمردن ماه ها، هفته ها گذشته و در نزديکي قدوم يار و دوست روز ها و ساعات را لحظه به لحظه به حساب گرفته انتظار محب القلوب خود را مي-نماييم.

روبهمرفته بهترين هدايا و تحايف را از قبل مهيا ساخته و اکليل هاي گل را در اولين باز ديد به سرو رقيه اش نثار ميکنيم و با ديدن دوست دوست داشتني خود بي نهايت شادمان گرديده و در لباس نمي گنجيم. و چشم هاي مان به ديدن محبوب روشن شده و زمزمه هاي وصال و خير مقدم در فضا طنين انداز ميگردد .

آري ! ماه معظم شعبان نويد بخش گرامي ترين ماه با عظمت رمضان المبارك است و ما در آخرين روز هاي ماه شعبان به پيشواز مهمـ عزيز و گرامي ماه مبارك صيام، ماه نزول قرآن عظيم الشأن ماهي که پيام آور رحمت، بيانگر مغفرت و نويد بخش گنهكاران از آتشـ سوزان جهنم است ديده باني ايام و ساعات را نموده و برين اميدواري هستيم تا در صورت و سيرت به پيشگاه اين مهمان محبوب به مـ ـعـ استقبال صف کشيده و با حلول وصال ماه مبارك رمضان با اظهار شکران و ابراز امتنان، گلدسته هاي خوشبوي و رنگين را در مقدمـ با خلوص عقيدت و ارادت پيشکش نماييم که در حقيقت اين هديه گرانبها تعهد به ميثاق و مظاهر عشق بخداوند يکتاو-بي همـ نيروي لايزال ايمان و معنويت و تسليم و اطاعت به اسلام. اين آيين سعادتمند فطرت انسانها است . مايه فخر امت مسلمه در امتثال دامين معبود بر حق و فرمايشات پيامبر گرامي و سالار انبياء و مرسلين«ص» بوده و کمال ايمان و حسن اسلام در شعاير اسلامي نهفته است ـزده ماهيکه گذشت عاري از شوکت و شکوه صيام بود و اينك با فرا رسيدن ماه مبارك رمضان اين ماه الگوي انسانيت و ارمغان بخـ نزول برکات، فراخي رزق و روزي مؤمنان، اکسير قلب مجرمان گويا ابر رحمت بر سرما مي آيد خوشابه حال روزه داران حقيقي که بـ معـ عالي تقوي و تزکيه نفس و پيرايه روح از آب و نان حلال تغذي ميکنند و از لقمه حرام و مشبوه خود داري ميکنند و روزه را کما حقه و طوريکه مقتضي شارع مقدس است اهتمام مي ورزند آمدن مهمان گرانمايه ما درين لحظات نزديك براي قاطبه ملت مسلمه و مجـعد کشور عزيز ما افغانستان و جهان اسلام مبارك باد.

در انتظـار آمـدن يار جانفزا
هستم به اين اميد که بينم جمال دوست

حزين

ياد فراق ميکنم سينه کباب مي شود
ياد وصال ميکنم ديده پر آب مي شود

خوشا شگفتن غنچه گلي وصال و زمزمه هاي دل انگيز آن، شادکامي و آسوده حالي، مايهء گرامي ساليان متمادي که پس از فراق و دو تا شدن با هم يکي شديم چون روح و کالبد و صورت و معني .

حقا که هنگامه وصل دو دلداده، پاك به ويژه وصال يارانيکه بعد از ايام فراق و داغ جدايي با هم مژده وصل مي يابند و زمزمه هاي شادي آفرين را مي سرايند لحظه يي است پر بار و جاوداني و خاطره يي است مشبت در صفحه زندگي سعادتبار انسان مسلمان که به يمن توفيق و ارزاني بي پايان الله متعال شامل حال بينوايان و درويشان ميگردد.

درين راه بايد تا آخرين نقطه سر منزل مقصود گامزن شد. از رنجها و سختي ها نه هراسيد با همه پديده هاي منفي و يورش رهزنان طريق بمبارزه و **مجادله پرداخت و اين همه بخاطر به کف آوردن گوهر مقصود ، بزرگترين عقوبات و تلخ کامي ها را به جبين گشاده استقبال نمود و همه را براي يکي و يکي را براي خود و آن است حاصل زندگي من و تو و اوست معشوق حقيقي و وصال او راحت جان ماست زيرا او آرامشگر روح و روان ماست .**

بنازم ترا با زمزمه هاي پر سوز عشق اي وصال اي وصال .

له اقتـصادي بنديزونو سـره د مقـابلې لارې چـارې

(۳)

ډاکټر احمدزي

ب : د ماشومانو د بې لارې کوونکو او د وخت د ضايع کوونکو لوبو د توکو واردول دې هم په کلکه منع شي . لکه پوقانې، مردکي، پلاستيکي د لوبو سامانونه د ګډې پوان کاغذ او تارونه د لوبو قطي او داسې نور، البته د سپورت وسايل له دې ورانديز څخه مستثنی دي خو هغه هم بايد ډير لوکس او قيمتي نه وي .

ج : يو بل غير ضروري شي چې په ډيره پيمانه هيواد ته راوړل کيږي بهرني بسکيټونه دي، چې هيڅ راز لوړ غذايي ارزښت نه لري او ښايي څيني يې ناروغي هم وزيږوي چې بايد هيواد ته له راوړلو څخه بې مخنيوی وشي. البته د ماشومانو لپاره د مغذي بسکيټونو د برابرولو لپاره دې د عامې روغتيا د متخصصينو په مشوره د هيواد په دننه کې د بسکيټونو فابريکې جوړې شي چې دا هم ډيره مشکله نه ده .

د : په اوس وخت کې د پلاستيکي بوټونو ، چپلکو او کلوشو صنعت په هيواد کې ښه پر مخ تللی همدوی دې تشويق شي تر څو د فعاليت ساحه يې پراخه شي او بهرني پلاستيکي پای پوښ دې منع شي، خصوصاً د روسی کلوشو چې ډيرې ګرانې دي، مخنيوی دې يې ژر تر ژره وشي .

ج : په هيواد کې د صابون جوړولو فابريکې هم ښې پر مخ روانې دي دوی دې وهڅول شي او د بهرني صابون واردول دې بند شي.

و : کومې دواګانې چې قيمتي دي او تر څنګ يې د بل هيواد په عين کيفيت دوا په ارزانه بيه تر لاسه کيدای شي په هغه دې بنديز ولګول شي البته د عامې روغتيا متخصصين دې په دې هکله پوره څيړنه وکړي، په هيواد کې دننه د دوا جوړولو فابريکې دې تشويق شي او د کار د ساحې او توليد زياتولو ته دې وهڅول شي .

ز : د قيمتي او لوکسو توکرانو واردول دې منعه شي . خلک دې هم وهڅول شي تر څو ساده او ارزانه جامې واغوندي دا څکه چې فقط پاکوالی ښه صفت دی نه د جامو قيمتوالی او عصريتوب، همدارنګه د بهرنيو قيمتي جمپرونو ، بالاپوښونو ، جورابو ، او واسکټونو په واردولو دې هم پا بندي وضع شي، په هيواد کې دې د نساجي صنعت ته وده ورکړل شي او ملي شتمن دې وهڅول شي تر څو په هر ولايت کې د خپلو خلکو لپاره فابريکې جوړې او توکران برابر کړي، کـه داسې وشي چې د ډير ارزان بيه تکر جامې رسمي او ملي جامه اعلان شي ډيره ګټوره به وي .

ح : په قيمتي ګړيو يا ساعتونو باندې هم زمور د هيواد ډيره پانګه بهر ته وځي حتی اوس اوس خو طلايي ساعتونه هم زمـوږ هيـواد ته راواردېږي ، د وخت د معلومولو لپاره دې فقط بطري داره ارزان بيه ساعتونه چې په اوس کې يې بيه تر شل زره افغانۍ لوړه نه ده استعمال شي د نورو ساعتونو تجارت دې په قطعي توګه بند شي .

ط : څرنګه چې زمور د هيواد زيانه پانګه د لوکسو موټرونو د اخيستلو له لارې هم بهر ته انتقال مومي، په دې هکله دې پوره پاملرنه وشي او هغه موټر چې د کيفيت له لحاظه تر نورو څه لوړوالی نه لري فقط ماډل او ظاهري ښه يې په مود برابره او قيمت يې څو چنده لوړ دی هيواد ته دې نه راوستل کيږي

ي: هيواد ته دې د ودانيو د رنګولو لپاره د بهرنيو رنګونو واردول او په هيواد کې دننه د ودانيـو په رنګولو کې ډول ډول رنګونو استعمال په ټينګه منعه شي ودانۍ دې د ګچ ، چونې او سپينې وطني خاورې په ذريعه سپينې شي په اوسنيو شرايطو کې هيڅ شان لکس او عصري مصارفو او رنګ ته اړتيا نشته .

ک: د سر او ځان پريمينځلو شامپو ګانې او خارجي صابونونه چې په ډول ډول نومونو له بهر څخه راځي او زمور د هيواد بوه اندازه پانګه بهر ته ليږدوي بايد چې رانه وړل شي د سر پريمينځلو لپاره دې د سر خاوره چې ښه پريمانه زمور په هيواد کې شتـه استعمال شي او د ځان پريمينځلو صابون دې په صحي معيارونو برابر د هيواد په دننه کې توليد شي البتـه د صابون جوړولو د فابريکې مصارف چندان زيات ندي او د نومورو فابريکو جوړول د ډيرو ملي سوداګرو په توان کې شته حتی په هر ولايت او ښار کې دې يوه يوه داسې فابريکه جوړه شي.

ل : د هيواد په ښارونو او بازارونو کې ډول ډول بهرني چاکليټونه هم ښه پريمانه ليدل کيږي که نومورو چاکليټو پر ځای کوم ضروري شي او يا د کوچنيو فابريکو لوازم او ضروريات وپيرو نو ښايسته زيات د کار او توليد وسايل تر لاسه کولای شو همدارنګه د بهرني چاکليټ پر ځای له وطني شيريني او ګوړې څخه هم ګټه اخستلای شو او په هيواد کې د ګنيو او چغندرو کرنې ته په ښه پام سره پوره ګوره او بوره هم تر لاسه کيدای شي په دې توګه بهرنيو چاکليټونو ته هيڅ اړتيا نشته او بايد چې واردول يې بند شي.

م : بهرنی منظري د مبارکي بلني او نور بهرني کارتونه چې واردول يې هيڅ کومه اساسي اړتيا نشي پوره کولای بايد چې هيواد ته رانه وړل شي همدارنګه د ودونو ، ختمونو او نورو محافلو د بلن ليکونو لپاره دې عادي کاغذ استعمال شي او د ډول ډول ګران بيه او غير ضروري کارتونو له استعمال څخه دې ډډه وشي او د نومـورو کـارتونو واوردول دې هم منعه شي.

پاتې لري

سپین زر هوټل د هر ډول اسانتیاو ...

ځکه یې پاتې نشو مونږ ددې هوټل د اوسنی حالت په هکله ددې هوټل له آمر محترم الحاج مولوی محمد ولی «سعید» سره لنډه مرکه وکړه چې لوستلو ته یې ستاسو پام را اړوو .

پوښتنه : د سپین زر هوټل د تاریخچې په هکله لنډ معلومات راکړی ؟

ځواب : سپین زر هوټل په ۱۳٤۲ هـ ش کال کی تاسیس او په ډیره لنډه موده کی یې ملی او بین المللی شهرت پیدا کړ او په اسیا کی یې د دریم نشان وګاټه .

پوښتنه : سپین زر هوټل ته په تیرو جګړو کی زیان اوښتی او که نه او که اوښتی وو نو څومره ؟

ځواب : په تنظیمی جګړو کی د راکټونو د لګیدو په لړ کی هوټل ته ډیره خساره رسیدلی وه چی د هوټل لویدیز خوا برخه یې رنګه او له منځه وړی وه د اوبو او بریښنا سیستم یې بیخی ویجاړه شوی وه او د هوټل بو شمیر سامان او لوازم هم چور او تاراج شوی وه چی د معدن او صنایع وزارت د رهبري د مقام په توجه او د امارت د رغنده پالیسی په اساس او د هوټل د پرسونل په همکاری د څلور سوه میلیونو افغانیو انکشافی بودجی څخه بیرته اعمار او ټول لوازم یې لکه فرش، چپرکټ، چوکی ، پردی ، تیلفون، الماری او د پخلنځی سامان او د هوټل نور ضرورت د هوټل له عوایدو څخه بیرته اکمال شول او هوټل بیرته د استفادی وړ وګرځید.

پوښتنه : سپین زر هوټل فعلاً نورمال فعالیت لری د هوټلداری له بین المللی نورم سره سم داخلی او خارجی میلمانه منی او د میلمنو لپاره یې ټول ضروری وسایل لکه تودی اوبه، سړی اوبه، تیلفون مسجد ، ایرکاندیشن برقی مرکز ګرمی، یخچال، لفت، استقبالیه، د معلوماتو ځانګه او زینتی شیان لکه ګلونه ، کب خانی او داسی نور شیان برابر کړیدی.

پوښتنه : په دی هوټل کی څو اطاقه فعال دی او د مسافرو لپاره څومره اسانتیاوی لری ؟

ځواب : د سپین زر هوټل ټولی خونی فعالی او په عصری وسایلو باندی مجهزی او د داخلی او خارجی میلمنو په خدمت کښی دی.

پوښتنه : د یو اطاق کرایه د بهرنیو لپاره څومره او د هیوادوالو لپاره څومره ده ؟

ځواب : په سپین زر هوټل کی دری ډوله اطاقونه موجود دی :

الف : اپارتمان چه د خوب خونه یې جدا او د ناستی خونه یې جدا تشناب یې په سړو او ګرمو اوبو مجهز او نور لوازم لکه تیلفون، یخچال، کولر، او نور ضروری شیان هم لری کرایه یې د خارجیانو لپاره څلویښت دالره او د داخلی میلمنو لپاره څلور لکه افغان ده .

ب : تشناب لرونکی خونه چه دوه د خوب تختونه او نور ضروری وسایل لری کرایه یې د خارجیانو لپاره شل دالره او د داخلی میلمنو لپاره دوه لکه افغانی ده .

ج : هغه خونی چی دوه د خوب تختونه لری او له مشترک تشناب څخه استفاده کوی کرایه یې د خارجیانو لپاره پنځلس دالره اود داخلی میلمنو لپاره یو لک اتیا زره افغانی.

د : د یو نفری تشناب لرونکی خونی کرایه د خارجی میلمنو لپاره پنځلس دالره او داخلی میلمنو لپاره یو لک پنځوس زره افغانی ده.

پوښتنه : آیا د هوټل پخلنځی فعال دی او که نه او څه ډول مراجعین منی او د یو خوراک قیمت څو روپی دی ؟

ځواب : د هوټل پخلنځی سل په سلو کی فعال او د داخلی او خارجی میلمنو په مخ خلاص دی او هر ډول داخلی او خارجی غذا پکښی پخیږی.

هوټل دری سالونونه لری چه د شخصی او رسمی میلمستیا وو او مجلسونو او شوراګانو لپاره چمتو ده او د غذا دری قسمه مینو برسیره یو قسم عادی خوراک هم لری .

په هوټل کی څو تنه کار کوونکی لری او آیا معاش په خپل وخت وررسیږی ؟

ځواب : په سپین زر هوټل کی له تشکیل سره سم دوه دیرش نفره پرسونل په مختلفو وظایفو کی کار کوی او معاش یې د هری میاشتی په اته ویشتم تاریخ د هوټل له عوایدو څخه اجرا کیږی د معاش په هکله هیڅ ډول ستونزه نشته .

پوښتنه : د هوټل میاشتنی عواید څو افغانیو ته رسیږی ؟

ځواب : د هوټل عواید ثابت ندی کله زیات او کله کم شی د روانی میاشتی په شلو ورځو کی د داخلی میلمنو عواید ٥٦٤٤٤٠٠٠ افغانی او د خارجی میلمنو عواید ۹۰۰ دالره او د رستورانت عواید جمعاً ۲۲٤۲۲۰۰۰ افغانی شویدی چی په مجموعی ډول د تیرو شلو ورځو عواید ۱۲۱۱٦٦۰۰۰ افغانیو ته رسیږی.

محترم وزیر امور خارجه ...

نمایند.

همچنان وي در ملاقات با نماینده کمپنی سیستم تیلفون بین المللي روي توسعه همکاري هاي آن کمپني با افغانستان صحبت نموده گفت هیچ مشکلي نیست که راه حل نداشته باشد و میتوان تمام مشکلات را از طریق مفاهمه حل نمود.

در این ملاقات شاغلي سورات بنتم نماینده کمپني متذکره علاقمندي خویش را در راه توسعه کار و فعالیت هاي ان کمپني در افغانستان ابراز نموده گفت در نظر است یك مرکز تریبوي در بخش مخابرات ایجاد نماییم.

همچنان نماینده کمپني متذکره از وضع تعزیرات از سوي شوراي امنیت سازمان ملل متحد و امریکا بالاي مردم افغانستان اظهار تأسف نموده خواهان رفع مشکلات از طریق تفاهم و مذاکره گردید.

یك مدرسه دیني در ...

مولوي عبدالرحمن حبیبي مسؤول امور دیني آنولسوالي در رابطه به فراهم آوري تسهیلاتي که از سوي امارت اسلامي در جهت گسترش خدمات دیني و علمي در کشور و همچنان سهمگیري فعال و خالصانه اهالي در این راستا صحبت نمود مدرسه متذکره که در ساحه ۱۳۰۰ متر مربع به کمك اهالي ولسوالي زرمت اعمار گردیده بر علاوه اتاقهاي درسي داراي مسجد شریف و سایر ملحقات میباشد.

کار ساختمان مجدد ...

اکمال و مورد استفاده قرار داده شد.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر مي دهد تعمیر نمایندگي «د افغانستان بانك» شهر گردیز که قبلاً در رژیم کمونیستي کلاً تخریب و از بین برده شده بود اخیراً از بودجه انکشافي امارت اسلامي مجدداً اعمار و مورد استفاده قرار داده شد .

در محفلي که به همین مناسبت به اشتراك برخي از مسؤولین امارتي ولایت پکتیا در شهر گردیز تدویر یافته بود بعد از قرائت چند آیت از قرآن عظیم الشان محترم مولوي احمد طه قادري والي ولایت پکتیا و محترم سید محمود الله معاون ریاست عمومي د افغانستان بانك در رابطه به باز سازي و احیاي مجدد کشور به تفصیل صحبت نمودند .

یك منبع مربوط گفت: کار ساختمان مجدد تعمیر متذکره که ساحه سه هزار و ششصد متر مربع زمین را احتوا مینماید از بودجه انکشافي امارتي اسلامي توسط شرکت ساختماني کلیم بصورت پخته و اساسي مجهز با سیستم کانالیزاسیون و سایر ملحقات ضروري اعمار گردیده است .

آرزومندیم تا سازمان ...

گفت: علي الرغم آنکه خسارات هنگفتي در عرصه تعلیم و تربیه بار آمده با آنهم تلاش هایي در جریان است تا سیستم منظم تعلیمي را ایجاد نماییم ما هیچگاه نمي خواهیم تا فرهنگ خویش را بر دیگران تحمیل نماییم و به دیگران نیز اجازه نخواهیم داد تا فرهنگ شانرا بالاي ما تحمیل نمایند.

شاغلي اریك دیمول در رابطه به تاثیرات ناگوار تعزیرات بالاي مردم افغانستان ابراز نگراني نموده گفت فیصله هاي ما با فیصله هاي شوراي امنیت متفاوت بوده زیرا شوراي امنیت جهت سیاسي داشته و وظایف ما را خدمت به جامعه بشري تشکیل میدهد . و ما در نظر داریم در بخش هاي انکشافي سهم فعال بگیریم.

هفتادو چهارمین جلسه ...

نقطه اوج این دیدار یك روزه صدراعظم آلمان از فرانسه حضور و سخنراني او در برابر اعضاي پارلمان فرانسه خواهد بود.

گیرهارد شرایدر نخستین صدراعظم آلمان است که در مجلس ملي فرانسه سخنراني میکند.

حملات هوایي و توپخانه ...

شدید بر گروزني و بر دو شهر دیگر چیچن در شرق گروزني گزارش میدهند.

در مرز چیچن و انگوشیا صف طویلي از مهاجرین چیچیني که در اثر حملات وحشیانه روس ها مجبور به ترك خانه و کاشانه خود شده اند دیده میشود که در سرماي شدید بدون هیچگونه لوازمي به سوي جمهوري انگوشیا در حرکت اند.

در عین زمان بانك جهاني تهدید کرده است که در صورت ادامه حملات روس ها به چیچن اعطاي قروض آن بانك را به روسیه به تعویق خواهد انداخت .

د موټرو او صنعتي ...

چي د کلام الله مجید څو مبارك آیتونه ولوستل شول د پوهني وزارت د تخنیکي او مسلکي زده کړو رئیس محترم مولوي عبدالقدوس مظهري د وینا په ترڅ کي خلکو ته د خدمت او د موټرو او د نورو صنعتي ماشین الاتو د ترمیم په برخه کي د علمي او تخنیکي لارو چارو د برابرولو په کار کي د طالب العلمانو فراغت اغیزمن وباله .

دغه مدرسه د موټرو او د صنعتي ماشین آلاتو د ترمیم او د بریښنا څانګي لري چي سږ کال يې د خپلي لومړي دوري فارغان ټولني ته وړاندي کړيدي.

د نړۍ روغتیایي سازمان...

وزارت د پلان رئیس محترم داکتر امین الله عابد ته وسپارل شول .

له دغو وسایلو څخه به روغتیایي فعالیتونو کي کار اخیستل کیږي او ټوله بیه یې ، پنځه زره ډالره اټکل شویده .

ملك	شپږ میاشتنی	کلنی
د ګډون بیه له هیواد نه بهر		
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

ملګري ملتونه تل داسي رپوټونه خپروي چي ...

نماینده ګان له ملګرو ملتونه وایستل شي . رباني باندي فشار راوستل شي او په افغانستان کي یو قانوني حکومت په رسمیت وپیژندل شي. تر څو په افغانستان کي د بشر حقوق په ځاي شي د اسلامي امارت تر واکمني لاندي سیمو کي مکمل امنیت تامین دي د خلکو حقوق موجود دي.

ده زیاته کړه : مونږ له هر دولت نه زیات د افغانستان د عامو خلکو حقوقو ته پاملرنه کړي ده د افغانستان د طالبانو اسلامي تحریك د قدرت لپاره راپورته شوي نه دي اصلاً د ملت د نجات لپاره راپورته شوي دي.

ده زیاته کړه : مونږ د ملګرو ملتو د مخدره موادو اداري ته وویل : که چیري دغه اداره د افغانستان له کروندګرو سره اقتصادي مرستي وکړي مونږ کولاي شو د یوه کال په اوږدو کي په ټول افغانستان کي د کوکنارو کرکیله بنده کړو خو بر عکس د ملګرو ملتو د سازمان د مخدره موادو دغي اداري کومي وعدي چي کړي وې په هغو ونه دریدل.

تبصره

در قبال تباهي ملت چیچن توسط روسها :

خاموشي سازمان کنفرانس اسلامي چرا ؟!!

جهانیان مطلع اند که ارتش بیرحم روس از چندي بدینسو به بهانه محو حملات مبارزین مسلمان قفقاز در شهر هاي مختلف روسیه، عملیات خیلي وسیع و ظالمانه را بر مملکت مستقل و اسلامي چیچن آغاز نموده اند نیرو هاي نظامي روسي که اکثراً با نشه شراب مست مي باشند چنان با قساوت و وحشت به قتل و تباهي دسته جمعي ساکنین و آبادي هاي چیچن ادامه مي دهند که مثال آن خیلي اندك دیده شده است، بنا بر گزارشات رسانه هاي خبري جهان حکام کرملین تنها به امید جلوگیري از مبارزات مبارزین مسلمان چیچن بر آن کشور حمله نه نموده بلکه روسها میخواهند تا ملت چیچن را از بیخ و بن محو نموده و همه آنها را نابود سازد چنانچه در این راستا نه بر اهالي شهر ها و دهات رحم نموده اند و نه بر کاروان هاي مهاجرین مظلوم و بي سرپناه. بنا بر راپور هاي منابع بین المللي قواي هوایي روسیه روزانه صد ها پرواز مرگ بار را بر فراز مناطق مسکوني و شهر هاي چیچن اجرا نموده و توپخانه و راکت هاي دور برد آنها بصورت متداوم و متواتر وجب وجب خاك آن کشور را مورد هدف قرار مي دهد قرار احصائیه خبرنگاران که از چیچن بشکل مخفیانه دیدن نموده اند تا اکنون بیش از نصف نفوس چیچن خانه هاي شان را از دست داده و بدون سرپناه و فاقد سرنوشت در داخل چیچن و یا در کمپ هاي ممالك همجوار به سر مي برند . خبر هاي واصله که حاکي از مظالم روسها بر مسلمانان چیچن است خیلي تکان دهنده بوده و احساسات هر مسلمان و هر انسان با عاطفه را باید تحریك نماید.

بنا بر گزارش و تصویر (دي میل ان سندي) تانك هاي غول پیکر روسي مناطق مسکوني مسلمانان را یکي پي دیگر ویران نموده و در بعضي مناطق مسکوني خانه ها را نیز زیر تانك نموده و اجساد شان را به عقب تانك ها بسته و در صحرا ها و وادي ها کش مینمایند. در چنین یك وحشت و ظلم لازم بود تا سازمان کنفرانس اسلامي منحیث مجتمع بین المللي امت اسلامي و مدافع حقوق مسلمانان در جهان، با تمام قوت و نفوذ خویش به سطح بین المللي به حرکت مي آمد و از ملت مسلمان چیچن که عضوي از جسد واحد امت اسلامي است به قاطعیت حمایت و دفاع مینمود، ملت مسلمان چیچن که شهامت و غیرت ایماني شان در حدود چهار سال قبل از امروز روسها را به شکست شان معترف ساخته و ارتش خوانخوار روس را از خاك خویش بیرون راند اکنون نیز با رشادت و سرسپردگي بي مثال با تمام جرأت و ایمان خلاف ارتش روسي به جهاد خویش ادامه داده و قاطعانه از حریم اسلامي خویش حفاظت مینمایند در چنین یك حالت خیلي بي انصافي و ناجوانمردي خواهد بود که ملل مسلمان و در رأس سازمان کنفرانس اسلامي حتي فریاد مظلومیت و تباهي ملت مسلمان چیچن را به گوش خود راه نه داده و یا آنرا به سمع جهانیان نرساند !!

ملت مجاهد چیچن از سازمان کنفرانس اسلامي فقط حمایت سیاسي و بشري را امید وار است و باید که سازمان کنفرانس اسلامي با استفاده از موقف بین المللي خویش مظالم روس ها را در تمامي مجامع بین المللي افشاء نموده و اذهان و افکار عام جهانیان را به حمایت از ملت مظلوم چیچن دعوت نماید.

سازمان کنفرانس اسلامي باید هر چه عاجلتر بطور فوق العاده تشکیل جلسه داده و با قاطعیت عام و تام از روسها خواهان قطع فوري مظالم شان بر ملت مسلمان چیچن گردد همچنان سازمان کنفرانس اسلامي در عرصه بین المللي نیز باید به تلاش هاي خود جهت قطع فوري وحشت روسها در چیچن ادامه داده و سازمان ملل متحد، سازمان عفو بین المللي و دفاع از حقوق بشر، اتحادیه اروپا سازمان کشور هاي غیر منسلك و تمامي کشور هاي جهان را به مظالم روسها در چیچن متوجه ساخته و بمنظور حمایت مردم مظلوم آن دیار مردخیز از هیچ نوع تلاش دریغ نه ورزد، در این راستا چشم امت اسلامي بسوي جمهوري اسلامي ایران که افتخار رهبري فعلي سازمان کنفرانس اسلامي را دارا مي باشد امیدوار بوده و باید که جمهوري اسلامي ایران با شجاعت و همت اسلامي از داعیه آزادیخواهي ملت مجاهد چیچن دفاع قاطعانه نموده ممالك اسلامي و جهانیان آزاد را به قد علم در برابر زور گویي وحشیانه روسها در مناطق مسلمان نشین قفقاز دعوت نماید. اگر خداي ناخواسته در این رابطه از جانب سازمان کنفرانس اسلامي و ممالك مسلمان سهل انگاري و بي تفاوتي صورت مي گیرد امت اسلامي یك عضو خیلي قوي و نیرومند پیکر خویش را از اثر وحشت روسها نابود خواهد یافت.

SHARIAT WEEKLY

Published by :

Islamic Emirat of Afghanistan

Chief Editor: Abdurrahim Saqeb

Printed by: Emirat Printing Press